پوهندوی آصف بهاند

# «ډېوي، ډېوي ماښام»

## یو نوښت، یوه ښه لار




په دې ورستیو کې د یو نوښتګر ځوان (محمدالله همیم) له خوا د «ډېوي، ډېوي ماښام» په نوم، په انلاین بڼه یو پروګرام پیل شوي دي. څنګه چې لېدل کېږي، په دې پروګرام کې هره ورځ د یوه حقداره شاعر د مثبتو کارونو، اثارو او ښېګڼو یادونه کېږي او ښه یې لا دا ده چې نور قلموال او د تربحث لاندې شخص اشنایان او پر مثبتو کارونو یې خبر اشخاص په کامنتونو او خپلو فیسبوکپاڼو کې خپل خاطرات او نظریات لیکي.

ما د همیم صاحب او د ده د فرهنګي هڅو په باب پخوا هم یوه مفصله مقاله لیکلې وه چې د ۲۰۲۳ ام کال په مارچ کې مې خپره کړه، د هغې مقالې ډېر بحث د ده دیو نوي چاپ شوي کتاب «بوډۍ ټال» په باب و، د هغې مقالې په یوه ځای کې مې لیکلي وو:

«همیم د لنډیو د دې ټولګې (بوډۍ ټال) د راټولولو لپاره د لنډیو د خیر کچکول په غاړه په ډېرو کلو، کوڅو، کورونو، ډېرو، مجلسونو کې د ډېرو سپینسرو ښځو او سپینږیرو خولو ته ناست دی او په ډېر ادب یې د لنډیو د راپیداکولو خیر غوښتی دی تر څو یې دا څه د پاسه دوه زره لنډۍ را پیدا او په دې ټولګه کې یې تاسو درنو لوستونکو ته د یوې ډالۍ په ډول وړاندې کړې دي.»

اوس همیم د «ډېوي، ډېوي ماښام» پروګرام نوښت هم کړی دی چې بیساري او نوې خبره ګڼل کېږي. دی په دې پروګرام کې نوی خلک، نوي فرهنګیان او نوي شاعران معرفي کوي او بل نوښت یې دا دی چې هرڅوک حق لري چې د معرفي شوو په باب خپل نظر او خاطرات ووايي او له تولو سره یې شریک کړي.

محمدالله همیم د ۲۰۲۴ ام کال د مارچ په شپاړسمه په خپله فیسبوک‌پاڼه کې داسې وړاندیز خپور کړ:

«سر لۀ سبا تر اختره ماښامونه، د شاعرانو پۀ نومونو کوو. هرماښام د یو شاعر پۀ نوم. شاعران پۀ ګډه ټاکو.

سهي؟»

بیا یې د دې مطلب د لاروښانتیا له پاره یې بیا داسي ولیکل:

«مثلاً: نن ماښام د پلانکي پۀ نوم.
ملګري بۀ د دوی شعرونه را لیکي، خاطرې بۀ بې شریکوي، او پۀ دوی بۀ خبرې کوي. ملګري کولای شي، خپل فسبوکـوالونه پرې رنګین کړي. هم بۀ عالي شاعران را مخته کړو، هم بۀ یې وستایو او هم بۀ د شعر ترږو ته بهانده چینه شي.»

د پاسنیو توزیحاتو تر خپرېدو وروسته ځینو مینهوالو د ځینو شاعرانو نومونه د وړاندیز په توګه په نښه کړی چې باید ولمانځل شي، د ځینو نومونه یې دا دي:

[Ismail Nigar](#)
[محمدالله همیم](#) سمده کاروان صیب انتخاب اول،

[Wakeel Ahmad Naimi](#)
د کاروان ماښام به ډېره په زړه پورې وي،

[Mahir Ihsas](#)
ښه کوئ

مانو اورښت
ستوری عبدالرحیم زی
پردیس شینواری
کړاو منګل
رحمان الله ریحان
سعید شینواری
ملنګ چراغ
افسر ملاجان
دلګیر شراب

[Imran Sadat](#)
لومړی ډیوه د شهنواز باقر،

[Jalal Jarir](#)
لومړی ډیوه د ثناءالله همدرد په نوم بله کړئ!،

[انجنیر امین](#)
لومړی باید دا سړی [Saeed Shinwarai](#) را مخکې کړی.

د دې وړاندیزونو په پای کې ښاغلي محمدالله همیم داسي ولیکل:

«ډیوې، ډیوې ماښام سر لۀ ننه پیل دی. لۀ پنځلسو تر شلو ماښامونه بۀ د همدومره شمیر شاعرانو پۀ نومونو کوو.

ځانګړی هشتاګ بۀ لري. شاعران بۀ ستاسي ټولو پۀ خوښه انتخابوو. پۀ هر ماښام بۀ د هغۀ شاعر ځانګړی عکس خپروو، ملګري بۀ يې شعرونه ليکي، خاطرې او کيسې بۀ يې کوي. او پرې غږېږي بۀ. د پښتو شعر دا ډوبه خاموشي بۀ ماتوو، د دې کار کرېډيټ نۀ احمد اخيستی شي او نۀ محمود. ګډ کار دی، او اشر بۀ کوو. نيت مو يوازې د ښو شاعرانو ستايل دي. تږو ـ تږو ذوقونو ته بۀ د بهاندو چينو پته ورکوو.»

زه (آصف بهاند) د «ډېوې، ډېوې ماښام» پروګرام يو نوښت ګڼم او زما له پاره له څو اړخونو د تاييد وړ دی:

۱ ــ «ډېوې، ډېوې ماښام» د حقداره فرهنګيانو د لمانځلو هغه لاره ده چې هېڅ ډول مصرف نه لري، پرته له دې چې څوک په عذاب شي، له خپل کور او ځای‌ځايګي نه خپل نظر خپروي،

۲ ــ دا پروګرام د ټولو، په تېره د ځوانانو له پاره داسي مثبته بوختـتيا ده چې يو خوا يې د پوهې او معلوماتو کچه لوړېږي او له بل پلوه د ځوانانو د ځينو منفي کارونو مخنيوی هم کوي،

۳ ــ لوستونکي په تېره ځوان نسل د قلموالو له ترسره کړو مثبتو کارونو او تجاربو خبروي،

۴ ــ د دوښمنی، جګړې او وژنو د کلتور پرځای د دوستۍ او مدارا کلتور عاموي،

۵ ــ د دې پروګرام په لړ کې به ډېر ناغوړېدلي او نومورکي استعدادونه وغوړېږي، پېژندنه به يې عامه شي او د هنر او شعر فيض به يې ترټولو پورې ورسېږي،

۶ ــ د نظرياتو او کامنتونو په وړاندې کولو کې هم هرڅوک کولای شي خپل تاثرات او برداشتونه په ازادنه ډول څرګند کړي، په دې شرط چې د چا خصوصي حريم باندې تېری ونه‌شي او د بيان ازادۍ اصول په کې مراعات شي،

۷ ــ د نوی نسل تخليقاتو او نظرياتو ته په کتو سره ما دا پايله ترلاسه کړه چې د ځينو هغو قلموالو هڅو او ليکنو نتيجه ورکړه چې هغوی د نوي نسل د روزلو په چوکاټ کې د سواد، مطالعې او زدکړو د عامېدو له‌پاره د کتابونو او مقالو په ليکلو سره تبليغ کاوه، د پايلو ښېلګې يې د همدې نوي نسل تخليقات او هغه سويه ده چې د همدې لړلې (ډېوې، ډېوې ماښام) د نظرياتو او کامنتونو په برخه کې راڅرګندېږي،

۸ ــ زه په دې کار کې د يو لوی يووالي ښې وينم.

ځکه دې نه يوازې ښاغلي هميم ته مبارک وي، بلکې ټولو فرهنګيانو ته او د افغانانو د يووالي او پرمختګ ټولو پلويانو ته مبارک وي. هيله کوم چې دا او دې ته ورته پروګرامونه دې وغځول شي.

تراوسه (۲۰۲۴/۰۲/۰۱) پورې د دغو شاعرانو په نامه د لمانځلو ډېوې بلې شوې دي:

۱ ــ نصيراحمد شهاب،

۲ ــ دلګير شراب،

۳ ــ نقيب احمد عزيزي،

۴ ــ سعيد شينواري،

۵ ــ مرزا عنايت الله ديدار،

۶ ــ عبدالمجيد پل،

۷ ــ ملاله کلیواله،

۸ ــ عیسی مشعل،

۹ ــ حنیف حیران،

۱۰ ــ ممتاز اورکزي،

۱۱ ــ اجل او هنر،

۱۲ ــ احسان‌الله درمل،

۱۳ ــ رضوان الله اوبرنګ،

۱۴ ــ مانو اوربنت،

۱۵ ــ حیات همت،

۱۶ ــ کاملي او معصومي...

**د لمانځل شوو په باب نظریات:**

د «ډیوې، ډیوې ماښام» د هر شاعر د لمانځلو په پار ښاغلي محمدالله همیم ډېرې لنډې، خو ماهرانه ـ هنرمندان او استادانه مقدمه‌ګی لیکلي دي چې په ریښتیا سره د ستایلو وړ دي. دلته به یې د نموني له پاره درې بېلګې راواخلم:

ــ شپاړسم ماښام د "کاملي" او "معصومي" په نومونو ډیوې بلې شوې دی او همیم دا وړه هنرمندانه مقدمه ورته لیکلې ده:

«نن ماښام د "کاملي" او "معصومي" عزیزیانو په نوم ډیوې بلوو.

دوه خویندې شاعراني، دوه نغمې دوه زمزمې. د سرودونو بلبلانې. همغه چې ویل یې، د کور دې یو یا د ګور خو:

«ګور د خپل وطن دې وي، یا کور د خپل لالي دې وي.»

هغه چې پر زړهٔ یې د سکوت کاڼي کېښول، او ترېته ساه یې فقط او فقط "شعر" کېدای شوه. همغه د محرومیت چیغې چې ویل یې:

«موږ کم نصیبو ته د درو بنو سرې دی وطن.»

ــ دیارلسم ماښام د رضوان‌الله اوبرنګ په نامه چې همیم د مینې او هنر په رنګ، رنګولی. دا

د همیم جملې دي:

«نن ماښام د رضوان الله "اوبرنګ" پهٔ نوم ډیوې بلوو.

د اوبو رنګ، بې رنګه سړی! خو رنګین شاعر، بویه خپل ټول رنګ یې شعر کې واچاوهٔ. کټ ـ مټ یې د ځان پهٔ ځېر شعر ولیکهٔ. هغه شاعر کهٔ څوک یې پهٔ ژوند پوی شي؛ لهٔ شعر بهٔ یې لا خوند واخلي.

یو بې کسه بنده، چې ماښام کې د خلکو ننداره کوي هر سړی خپل کور او اور ته ځي، دا تماشه يې پهٔ نا امیده سترګو لیده لکه: «د سهار ستوري چې رپي.» دی وايي:

زهٔ چرته لاړ شم. «څهٔ پهٔ نه خبره زړهٔ د سړي وران شي.»

همغه اوبرنګ چې نه د چا ياد مړ کړ او نه پهٔ ژړېدو مړ شو، بیا یې لهٔ ډېر اذیته وویل:

«زهر پهٔ څو دي دوکانداره، زهٔ پهٔ څو مرمه؟»

همغه اوبرنګ چې زنده ګي يې د ترخو اوبو پیاله وه او د چا پهٔ نوم يې لاسونو کې چپه شوه. همغه اوبرنګ چې له سختو پړاوونو نه راوتی مست ژوند یې دوه لفظونو «خدای پهٔ امان.» ختم کړ...»

ـ اتم ماښام د عیسی مشعل په نامه غوټه شوی او همیم داسي توري ورته امیل کړي دي:

«نن ماښام د عیسی مشعل پهٔ نوم ډیوې بلوو.

د پښتو معاصر ادب ډېر کشر لاروی، همغه مشعل چې سترګې يې د ښکلا پهٔ لید وتلي. همغه مشعل چې کم مزل يې کړی، خو ډېرې تماشې. همغه مشعل چې پهٔ خپل هنر يې ډېرو عمیقو او رنګینو تماشو ته ودرولو، ګوته پهٔ غاښ! زموږ د ذوقونو دعا يې واخیسته. همغه مشعل چې پهٔ شپو کې بل شو، د کار شو، د ذوق توري مبنې يې رڼا کړې. همغه چې وړې ـ وړې کېسې يې لټې پهٔ لټ کړې، لويې کیسې يې پکې پیدا کړې...»

همغه خوېندې چې پهٔ وچه څانګه اخري پاڼې وې، خو باد سترې شو، راويې نه غورځولې. همغسې يې د ژوند سرودونه ويل، د پسرلي زیري يې وړل.»

په دې مقاله کې د «ډیوې، ډیوې ماښام» پروګرام د ټولو لمانځل شوو په باب د نظرياتو راوړل او وربانډې خبرې کول لږڅه ستونزمن کار دی. ما داسې وکړل چې تراوسه پورې د لمانځل شوو ښاغلو او اغلو له ډلې نه مې درې تنه انتخاب کړل: نصیراحمد شهاب، حنیف حیران او احسان‌الله درمل. د هر یوه په باب نظريات او کامنتونه مې ولوستل او ځینې نظريات مې د بېلګې په توګه رانقل کړل.

د ټولو نظرياتو تر لوستلو وروسته سړي ته امید پیدا کېږي چې خلک له خپلو فرهنګیانو او شاعرانو سره څومره مینه لري او د مثالونو او خاطراتو په یادولو سره يې په عملي ډول په لمانځه کې برخه اخلي. بله د امید خبره دا ده چې د نظرياتو او کامنتونو د لیکونو ادبي ذوق، سويه او د سواد او معلوماتو کچه هم لوړه او د خورا ستاينې او درناوي وړ ده.

اوس به په ترتیب سره د هغو دريو شاعرانو په باب نظريات راواخلم چې ما انتخاب کړي دي:

**ـ نصیراحمد شهاب:**

**چې لېونی زړهٔ مې پسخېږي د ماتم لپاره**
**نـوې یاري خو به کـوم د نـوي غم لپاره**




**په پيل کې د نصيراحمد شهاب بيوګرافي:**

مخکې له دې چې د شهاب صاحب بيوګرافي راواخلم، له فعال او ګران فرهنګي دوست ارشاد رغاد نه بيا ــ بيا مننه کوم چې د تېرو مرستو په دوام کې يې د ښاغلو احسان‌الله درمل او نصيراحمد شهاب د بيوګرافۍ په برخه کې هم مرسته راسره وکړه.

«نوم: نصيراحمد شهاب،

د پلار نوم: سيد محمد،

د زېږېدو ورځ: 1996.6.6

ولايت: کابل ولسوالی: سروبي،

د اوسېدو ځای: د کوټګی کلی چې د ولسوالۍ له مرکز څخه شاوخوا څلوېښت کيلومتره لرې پروت دی. د مور او پلار د لسو بچيو له منځه يواځنی کس چې په ډېرو سختو شرايطو کې تر لسانسه زده کړې کړي.

لکه څنګه چې زموږ کلی له ښاره لرې او هلته ښوونځی نه و، تر نهم ټولګي د سروبي ولسوالی (د سرچينو عالی لېسه) وروسته د کابل له (خوشحال خان لېسه چې ليليه هم لري) څخه فارغ او د خوست ولايت د شېخ زايد پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځی د اردو څانګې ته بريالی او له ياد پوهنتونه په 2021 م کال فارغ شوم. د پوهنتون لوستو ترڅنګه مې د ښوونکي دنده درلوده، تر څو د ځان لومړنی اړتياوې پوره کړای شم.

کله چې وطن د تالبانو لاس ته ولوېد او نور ځان راته په خپله خاوره پردی برېښېده ورسره د خلکو نامناسب چلند د وطن پرېښودو ته اړ کړم او نن سبا د جرمني هېواد په هامبورګ ښار کې اوسم.»

نصيراحمد شهاب ته د «ډيوې، ډيوې ماښام» کوربه محمدالله هميم داسې ليکلي دي:

«نن ماښام د " نصيراحمد شهاب " پهٔ نوم ډيوې بلوو.

همغه شهاب چي د زندګۍ لهٔ درانهٔ پېټي سره پهٔ يولټون ښکته پورته ونښېد. د دې لټون هر ګام يې، هر درد يې او هر پرهر يې شعر کړ. همغه شهاب چي فقط او فقط خپل ذوق پرې شعر ليکلی، همغه شهاب!!
نن پهٔ شهاب غږېږو، راځئ شاعري يې را وليکئ، خاطرې او کيسې يې وکړئ. دا ماښام د شهاب دی.»

**دا هم د نصير شهاب د شاعرۍ او شخصيت په باب نظريات:**

Lalmohamad Jamal
ښه خبره دا ده چې شاعران، ليکوالان او نور شخصيتونه په ژوندون وستايل شي.

Paghman Nigar
«سپرلی دی او زه دومره لرې ورې يمه جبر
اقلًا چې يو ګل خو مې نيولی درته وای

نصير احمد شهاب مې په لومړي ځل په افغان ادبي بهير کې وليدو له هغې وروسته مې بيا شهاب صاحب او ذبيح الله بيان صاحب چې دوۍ دواړه په شيخ ذايد پوهنتون کې محصلان وو ورسره مې وليدل او بنډار مو سره وکړ او وروسته مې بيا څو څو ځله ناسته ورسره وشوه او خواږهٔ خواږهٔ شعرونه مې ترې واوريدل.
واقعًا چې شهاب د ادب د اسمان ځلانده ستورى دی چې د شعر لپاره د خواږو لفظونو د راټولو يو ځانګړی هنر لري زه يې د خوندورې او نوښتګرې شاعرۍ يو ځانګړی مينوال يم د شهاب سيورى د تر ډېره د شعر په ځمکه راخور وي.»

فرهاد شيون
«تږی، چې اوبه ويني تنده يې سيوا کېږي، روژه دار، چې ډېر تږی شي يوازې دا خبره کوي، چې هيڅ نهٔ خورم، مازې اوبهٔ ښښم..

شهاب د تندې شاعر دی، هغه داسې شاعر، چې که يو غړپ اوبهٔ څوک وڅښي، نو تنده پرې ابله بېله ماته کېږي، که يې لا وڅښي؛ نو خقيقت دی، چې يوازې بهٔ ښنبل کوې اؤ خوراک بهٔ پرېږدي.

شهاب، پهٔ صحرا کې هغه لار ده، چې پهٔ ډېر بريک ځای کې يې لار کړي، همداسې د شهاب شاعري، چې پدې بې ذوقه اؤ ميډيايي شاعرۍ کې يې خپل حيثيت ساتلی، پهٔ شهاب خبرې ډېرې دي، (ګوره چې لهٔ هرې ډډې وڅکي خواږه وي.)

موږ چېرې هم د ستوري ځلا قياس کولای نهٔ شو، ځکه هغه لايتناهي دی.
شهاب، پهٔ مسافرۍ کې خپلې شپې ورځې سبا کوي، د اروپا ګرميو ته لهٔ سيوري ښخه بل ته پنأ وړي، د دې عظيم انسان پهٔ ژوند برکت عمر يې درازه!
شهاب دې وځلېږي، وځليږي، اؤ لا دې وځليږي.»

مولانا هوډمن
«خاورې ايرې اچوو په سترګو د ارمان کې
حد د بې وسۍ دی په ناراضه ژوند رضا يو

شهاب داسي ليکل کوي لکه ما چې کړي وي يو نيم دومرهه عجيبه بيت وليکي چې کتابونه خبرې پکې وي»

**دا هم د ښاغلي شهاب د کلام بېلګه:**

ساقي! تادي مه کوه دومره مې ناکام نه دی
زما هوس د چا ليده دي ستا د جام نه دی

هغه دبل کېږي! زه نه مرم! دنيا نه ورانيږي!
نه، نه فالي! زما د مينې دا انجام نه دی

دار مې قبول دی خو په دې ګنا چې وخ! مات شوم؟
قتل قدم وهي قاضي ستا ورته پام نه دی

چې هر سهار پاڅم، له قهره په ځان خولې لګوم
په دې خپه يمه چې لا مې ژوند تمام نه دی

نه ستا د مخ ډېوه شوه بله، نه ياران راغلل
هسې تياره شوه، ستوري وختل، ماښام نه دی

ياره جنت کې مې ښې ډېرې منظرې وکړې
خو لا مې فکر نه وتلی ستاسو بام نه دی

زما او ستا نه کېږي څه پرېږده موټروانه ياره!
زما سفر د کوم سرک تر اختتام نه دی

چې ورته څو کرته مړ نشي مات، مات نشي
مړه نڅا خو د سندرو احترام نه دی.

شهاب

## غزل

چې لېونی زړهٔ مې پسخېږي د ماتم لپاره
نوې ياري خو به کوم د نوي غم لپاره

پهٔ زړهٔ مې سل دنيا جنجال دی ستا پهٔ ضد مې قسم
نور د باور څهٔ پاتې نهٔ دي د قسم لپاره

وجوده! نن خو دې لالي ته خامخا ګرموم
چې بهانه ورته پيدا شي د ستم لپاره

فرض کړه چې نن سبا کې ناست يو پهٔ تېغر دحساب
څواب دې څهٔ دی د ناهيلي بنيادم لپاره؟

عجب ريشخند شومه فرهاده! تماشې ته راشه
د خپل غرور غر مې مات کړی د صنم لپاره

وخ سرابي منزله! مرم لهٔ ارماني مزله
خدايکه لرمه حوصوله د يو قدم لپاره

شهاب

## غزل

ته يې د ځان کړې ستا د مينې تور يې ماته راکه
له خدايه وپوښته! چې ځومره زور يې ماته راکه

نتيجه ګورې! د انصاف د دعوه دارې دنيا
ته يې رقيب ته ورکړې، ستا پيغور يې ماته راکه

سودايي نه، خو په مذهب د لټون واوښتمه
چې مخ يې پټ کړ نيمايي انځور يې ماته راکه

لکه بنګړي د رسوايئ په مقام ودرېدمه
ما دومره نه غوښته چې ځومره شور يې ماته راکه

هغه ياربازه په عشق نده خو ما ساتي زړه کي
د کرايي دا لنډمهالى کور يې ماته راکه

ته بختوره يې د عشق له هوا وساتلې
دغه تېره د ځان رېبلو لور يې ماته راکه

شهاب

## غزل

د خپلو هيلو قتل عام ته لښکر شوی يمه
له تانه پس! په ځان بېخي زورور شوی يمه

نن به نو لوېږې تندرونه ستا د سترګو د غم
بېګاه مې خوب ليده ،چې زه سمندر شوی يمه

اختيار او خوښه لکه پلونه چېرته پاتي رانه
لکه غلام د ژوند په کار مقرر شوی يمه

شم پښه نيولی په هرچا پسې کېدونکي غږ ته
کلونه وړاندې له يو چا مرور شوی يمه

د وسعتونو پر بيان دې بازار ګرم اوسه
خو زه له دغو دايرو نه بهر شوی يمه

د يوې چټې مينتوب يې و ختلی سرته
زه چې اخير ځلې له ځانه خبر شوی يمه

### ـ حنیف حیران:

**له باچا نه به څوک وپوښتي حیرانه**
**د مکتب د تـالی زنګ ولي ولاړ ده**




### په پیل کې د حنیف حیران بیوګرافي:

ځنګه چې ما په فیسبوک کې د ښاغلي ډاکتر حنیف حیران د ملګرتیا ویاړ درلود، نو خپله مې د مسجر له لارې د ده بیوګرافي ورنه وغوښته. دا زما د غوښتنې متن دی:

«حیران صاحب سلامونه!

هیله ده هرڅه ښه وي.

ستاسو یوه لنډه بیوګرافي مې د یوې څېړنیزې مقالې د بشپړتیا لپاره پهکار ده، د علمي او فرهنګي مهربانۍ په خاطر یې راته راولېږئ.»

حیران صاحب په مهربنۍ او لورینې سره خپله دا بیوګرافي مل ته رالوېږله:

## ژوندلیک

«ډاکتر محمدحنیف حیران مې نوم دی، په ۱۳۵۵ز کال کې د پکتیا ولایت د سېدکرم ولسوالۍ د مش په کلي کې زېږېدلی یم. نه مې یادیږي خو مور مې ویل چې د روسي یرغل څخه دوه کاله وړاندې په روژه کې وزېږېدې، په دریم کال پاکستان ته کډوال شوو.

لومړنۍ زده کړې مې په کوزه پښتونخوا کې د ټل دوآبه نومې سیمې په یوه ښوونځي کې وکړې، په ۱۹۹۹م کال کې له حضرت بلال عالي لیسې څخه فارغ شوم. وروسته د لوړو زده کړو لپاره پېښور ته لاړم او په ۲۰۰۸م کال کې له طب پوهنځي فارغ شوم. څو کاله مې د پېښور په شمشتو کمپ کې په خپل روغتون کې بوخت وم، په ۲۰۱۱م کال کې کابل ته وکوچېدم. کابل کې هم له خپل

مسلک سره نږدې پاتې شوم، په وروستیو کلونو کې مې له ځینو موسساتو سره په بېلابېلو برخو کې کار وکړ.

په ۲۰۱۶م کال کې د پکتیا په پوهنتون کې شامل او په ۲۰۱۹م کال کې د همدې پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي له پښتو څانګې څخه فارغ شوم. اوس مهال د ۲۰۲۴م کال د کاتب پوهنتون د ټولنپوهنې په پوهنځي کې د ماسترۍ په برخه کې زده کړیال یم.

له کوچنیوالي د پښتو ادب شعر او نثر لوستونکی او مینه وال وم. په ښوونځي کې وم، کله کله به سیمه‌ییزې مېلې ته لاړم، کومې پیسې به مې چې مور یا پلار د ښوونځي لپاره راکړې، هغه به مې ټولې کړې او د شعرونو یا د لنډو کیسو کتابونه به مې پټ پړې راونیول، پټ ځکه چې هغه مهال چاپېریال دې ته جوړ نه و چې څوک دې په کم عمر کې شاعري ولولي یا دې خپله شعر ولیکي.

لږ چې راستر شوم ادبي بهیرونو ته مې مخه کړه، د ټل ادبي چمن او مشال ادبي ټولنې غړی شوم، رودادونه او ادبي راپورونه به مې لیکل. لا محصل وم چې «د پکتیا په ډاګ کې» شعري ټولګه مې چاپ شوه. وروسته مې په وار نورې شعري ټولګې او په نورو برخو کې کتابونه خپاره شول، چې په لاندې ډول یې نوم‌ونه لیکم:

۱ ــ د پکتیا په ډاګ کې (شعري ټولګه)،

۲ ــ لکه غر مې زړه کې پروت یې (شعري ټولګه)،

۳ ــ یو ځلې بیا په دې لار راشه (ټپیـزې)،

۴ ــ د طبي لابراتوار ازمایښتونه (طبي اثر)،

۵ ــ نهیلي ولې؟ (اروا‌پوهنه)،

۶ ــ ارواییي خوښي او بدني ځواک (اروا‌پوهنه)،

۷ ــ کړنې او انګېرنې (فولکلوریک اثر)،

۸ ــ د ځوان او خوښ اوسېدو هنر (اروا‌پوهنه)،

۹ ــ ملاله (ناول)،

۱۰ ــ د ارام لپاره چرته سړی لاړ شي؟ (شعري ټولګه)،

۱۱ ــ کړنې او انګېرنې، دویم ټوک (فولکلوریک اثر، تر چاپ لاندې).

له دې پرته مې له بېلابېلو مجلو او جریدو سره د مسوول مدیر په صفت کار کړی دی. د سلیمان غر او پکتیانا مجلو مسوول چلوونکي هم پاتې شوی یم. په بېلابېلو انټرنیټي سایټونو او مجلو کې مې سلګونه علمي او ټولنیزې لیکنې خپرې شوې دي. اوس مهال په کابل کې ژوند کوم؛ ګورو به چې د وخت ګرداب به مې له دې وروسته همدلته پرېږدي او که به مو بل لوري ته بیايي.

درنښت
ډاکټر محمدحنیف حیران، کابل، افغانستان
۱۳ حمل ۱۴۰۳ز کال»

د ډاکټر حنیف حیران ژوند لیک او فرهنګي ــ علمي اثارو ته په کتو سره په زړه‌ورتیا سره باید ووایم چې: حنیف حیران څو اړخیز شخصیت لري، اصلي رشته یې طب دی، خو په ادبیاتو کې یې هم زدکړې کړې دي او اوس هم په زکړو بوخت دی. د شعر او هنري‌نثر په دنیا کې یې ځانته ځانګړی

بڼ جوړ کړی دی. د فولکلور په برخه کې هم د ډېر ښه ذوق خاوند دی، له نورو فولکلوریکو اثارو نه وراخوا، د لنډیو په څېړولو او نورو ته رسولو په کار کې هم ماهر دی او ما ته ځکه ځانګړی دی چې دی تل په خپله پاڼه کې داسې لنډۍ انلاین کوي چې اتیا سلنه نوې لنډۍ دي. ځنګه چې زه له ډېر پخوا نه د نویو لنډیو د راټولو په کار بوخت یم، چې ځنګه یې نوې لنډۍ په پاڼه کې سر راښکاره کړي، زه یې د نورو نوو لنډیو په ډله کې خوندي کوم.

حنیف حیران ته د «ډیوې، ډیوې ماښام» کوربه محمدالله همیم داسي لیکلي دي:

«نن ماښام د "حنیف حیران" په نوم ډیوې بلوو.

لکه رود؛ طبیعي بهاند شاعر. چې ویلي یې وو: «که رانده ام وای ښکلا مو پیژانده، ځکه ښکلا د فطرت د منظرې غږ دی. » همغه حساس حیران چې ځان کې ووسېده، له ځانه ووت خو زړه یې همغسې اوتر و، بیا یې وویل: «د آرام له پاره چرته سرې لاړ شي؟» همغه حیران چې سترګې یې اوترې اړولې، همدا نظر یې شعر شو، چا چې واورېد؛ همدا په خپل زړه کې پټ انسان یې ولټاوه... همغه حیران چې په اور یې سوزېده، مګر له وطنه، میني، او ژونده یې زړه مات نه شو. د غمونو طوفانونه راغلل پرې؛ خو د زړه ونه یې ولاړه وه، په خپل مقام!!

راځئ د ده دا ماښام د ده په شاعرۍ، کیسو او خاطروو پیلوو!!»

### دا هم د حنیف حیران د شاعرۍ او شخصیت په باب نظریات:

عابد ملا
حیران صاحب د ښې شاعرۍ تر څنګ د عالي اخلاقو څښتن دی.

Muhammad Nazir Muslimyar
«سیخه دې په سترګو سلېمان غر ته تللې لاره ده
خدای ته تللې لاره پیغمبر ته تللې لاره ده

باک نشته حیرانه که اغزي دې لمن ونیسي
درومه پدې توره شپه سهر ته تللې لاره ده

حیران صاحب یو لوی انسان دی، ما شاوخوا شل کاله پخوا په لره پښتونخوا کې لیدلی دی خو لکه دا تېره ورځ مې چې لیدلی وي، د شاعرۍ تر څنګ ښه ډاکټر هم دی، حیران د خپلو خیالونو په رنګینه نړۍ کې حیران او لاس تر زنې ناست دی، حیران صاحب ډېر مینه ناک سړی دی، اوږد عمر او د شعر رنګینه نړۍ ورته غواړم.
درنښت
مسلم یار»

عبدالمجید یل
«ډاکټر صیب ته دې هر ماښام ډیوې بلې شي عمر یې اوږد شه
ماته یې په اول ماښام مبارکي داد او مینه را میسج کړه په لویو شاعرانو کې حیران صیب وو چې زیاته خوشحالي یې را وبخله دغه بیتونه یې مینوالو ته ډالۍ کوم:

کښت مې د نظر ګونډې راشین کړې خدای
سترګې مې په لار درته کرلي وې

ستا له انتظاره هيڅ کار ګران نه و
شکې د صحرا به مې شمېرلې وې

تمه د وصال ده چې ژوندی يمه
اوس خو به مې زر ساوې ختلې وې
حيران»

Abasin Bahir
د ډاکټر صاحب د ادب چينه دې تانده وي او قلم يې پياوړی اوسه!

پيرمحمد ريحان
«که د ډاکټر صاحب حيران د اعزاز په پار او د هغه د شعر د ستايلو لپاره هر ماښام ډېوې بلې شي
بيا هم کمې دي ډاکټر صاحب دې د اوږد او خوښ ژوند څښتن شي!

د بايللي ميني ياد مي زړه ته راغی
د ملګري په واده کې غلی ناست يم»

**د ښاغلي حيران د کلام بېلګې:**

ښکه ورته وګورمه، سترګې زما لمر وهي
سپيني کيسي نشم کړی، جلاد مي رانه سر وهي

ولي مو د نجونو د تعليم مخه نيولې ده؟
بده ده چې ښځه باندې لاس پردی ډاکټر وهي

دا خلک که نن د رڼاګانو لښکر جوړ نه کړي
چا باندې سبا ته بيا د تورو شپو لښکر وهي؟

حنيف حيران

*****

ځان ته راشي که بهر ته سړی لاړ شي
د ارام لپاره چرته سړی لاړ شي؟

*****

تکبر يې په لېمو کې شي دوه چنده
هر څه مات شي، کبرجنه نه ماتيږي

که څه هم چې يې د جنګ په اور کې سوځم
مګر زړه مې له وطنه نه ماتيږي

*****

هېروم دې، خو په زړۀ کې را پۀ ياد شي
ګنهګار نشم، مانځۀ کې راپۀ ياد شي

د همزولو له اتڼه غلی ووځم
د همزولو په وادهٔ کې راپهٔ یاد شي

لکه لمر په راختلو کې دې ګورم
لکه لمر په پرېواتهٔ کې راپهٔ یاد شي

*****

ژوند په غاړه د ګړنګ ولې ولاړ دی؟
زبون وهلی غوندې ګونګ ولې ولاړ دی؟

سُر او لی مې له سندرو نه روان دي
ستا د شنو بنګړیو شرنګ ولې ولاړ دی؟

پښتنو کې اتفاق راغی که څنګه
د ځلورو سترګو جنګ ولې ولاړ دی؟

ښه پوهېږي چې کچکول به بیا رامات کړي
دروازې ته بیا ملنګ ولې ولاړ دی؟

د دښمن په خواخوږي فکر پکار دی
چې دې سخته کې تر څنګ ولې ولاړ دی؟

زمکې ولې هوار کړی دی ځان پښو ته؟
او اسمان له کبره دنګ ولې ولاړ دی؟

له پاچا نه به څوک وپوښتي حیرانه!
د مکتب د ټالی زنګ ولې ولاړ دی؟

ــ احسان‌الله درمل:

**د روح سکون، د زړهٔ ټوټه، د سترګو تور دی وطن**
**شرم دی مه یې خرڅوئ، ټیکری د مور دی وطن**




**په پیل کې د احسان‌الله درمل بیوګرافي:**

څنګه چې مخکې هم وویل شول ما د رغاند صاحب په مرسته، د ښاغلي درمل بیوګرافي د یوه لینک له لارې ترلاسه کړه. په ویکیپیډیا کې د درمل صاحب بیوګرافي د یاد ویبسایت په ستایل اپښودل شوې ده چې زه یې ځینې اړینې برخې رااخلم:

«ډاکټر درمل په ( ۱۳۶۷ل) کال کې د جان وکیل کره زېږېدلی دی. ډاکټر درمل قبایلي سیمې کورمې ایجنسۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې. د نوموړي کورنۍ د پکتیا ولایت له ځاځي اریوب ولسوالۍ نه کورمې ته کډوال شوي وو.

ډاکټر درمل لومړۍ زده کړې په کورمه کې د مهاجرو په یوه ابتدايي ښوونځي کې کړې دي او همملته یې لیسه هم لوستې ده.

په ۱۳۸۲ل کال کې د کانکور له لارې د کندهار پوهنتون د طب پوهنځي ته بریالی شوی او په ۱۳۸۹ل کال کې ترې فارغ شوی.

په ۱۳۹۰ ل کې له طب پوهنځي او په ۱۳۹۴ ل د عمومي داخله ناروغیو په برخه کې د تخصص له پروګرامه فارغ شو. په ۱۳۹۵ ل کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د طبي علومو د مرکز غړی شو.

ډاکټر احسان الله درمل Dr.Ihsanullah darmal د طبي زده کړو تر څنګ په پښتو ادبیاتو کې یوه پېژندل شوې څېره ده، چې د شعر کره کتنې په برخه کې یې ځینې اثار لیکلي دي.

ښاغلي درمل د طبي کتابونو او مقالو تر څنګ ګڼ شعرونه، مقالې، څېړنیز اثار هم لیکلي دي. ،د ۱۳۹۵ کال په لیندۍ کې یې د شعرستان په نامه یو ۷۰۰ مخیز کتاب خپور شوی، چې د شعر پر مهمو تخنیکونو او هنري میکانیزمونو بحثونه پکې شوي دي.»

زه ډاډه یم چې پاسنۍ بیوګرافي د ښاغلي درمل د پېژندنې لپاره کافي نه ده. خامخا د احسان‌الله درمل د علمي ــ فرهنګي شخصیت ټول اړخونه به په دې بیوګرافۍ کې نه وي راغلي یا وروسته له دې چې د ده دا بیوګرافي په ویکیپیډیا کې انلاین شوې ده، درمل صاحب به په علمي ــ فرهنګي ډګر کې

نورفعالیتونه هم کړي وي چي دلته نه دي یاد شوي، که د درمل صاحب په باب معلومات نیمګړي وي، زه له خپله اړخه ښښنه غواړم.

احسان‌الله درمل ته د «ډیوې، ډیوي ماښام» کوربه محمدالله همیم داسي لیکلي دي:

«نن ماښام د احسان الله "درمل" پهٔ نوم ډیوې بلوو.»

د شعرستان درمل، چي شعر لولي دریادېږي، چي د شعر نوم اوري سترګو ته دي ولاړ وي. لکه پروته څانګي وانګي تللی پهٔ زړونو ړنګ دی. هغه مسیحا چي د زړهٔ بیماران هم پهٔ شعر او هم پهٔ طب رغوي.

همغه درمل چي ښایست او مینه دواړه ورسره ولاړ دي، چي د عشق کړو وړ سمي ور وښودې، چا ورته ووې رښتیا؟ دهٔ ورته فقط همدا ووېل: «پهٔ کړو ځانګو د انګور مې قسم.» هغه چي پرهر یې پهٔ ګلابي لاسونه لګېدلی و اوس ګلابونه تِوکوي. همغه درمل چي د سندرو، سرودونو او ژوند پهٔ طرف دی. چي زړهٔ یې هم شاعر دی، سبانی غم نن حسوي. همغه درمل چي د خپل وطن پهٔ مینه یې مست او مستغني کړو. راته ویې ویل: «ور بهٔ یې نه کړو یوه لوېښت ځمکه پهٔ باغ د عدن.»

دا ماښام، او دا سرې. راځئ نن پهٔ دې ښکلي انسان د خبرو پلمه جوړه ده. د زړهٔ خبرې ورته وکړئ، دا ماښام د دهٔ دی...»

**دا هم د احسان‌الله درمل د شاعرۍ او شخصیت په باب نظریات:**

محــــــمود بـــــاقـــر
«هر ماښام ښکلی وو خو نن ماښام بیا بل رقم ښکلی دی
ډاکټر صیب ته زهٔ خپله د زړونو درمل وایم که څهٔ هم ډاکټرصیب د زړونو متخصص دی
زهٔ ډېره پوهه نهٔ لرم ګني نن به ما ډاکټر صیب باندې یو څهٔ ویلي وای
خو بس خېر نن ماښام دې زما د زړهٔ درمل ته مبارک وي»

Muhammad Nazir Muslimyar
«څـــــومره چي یاران خاورې زما په نامــــــه اړوي
دومره به د خلکو راته پام کړي، نور به څه وکړي؟

ښکلی که هردم زړه ماتوي زما، پر ما یې څه
کم به د خپل حُسن یو غلام کړي، نور به څه وکړي

ډاکټر احسان الله درمل د زړونو درمل دی، ښه نثر او عالي شاعري کوي، زمایې شاعري ډېره خوښېږي، د پښتو ادب یو ځلانده ستوری دی، لا دې ځلانده وي.»

Ahmad Kaliwal
«درمل یو موتی سرې دی خو د علمیت، سنجیده‌ګي، ژور لید، نوښت، او... بحر دی.
درمل پخپله لوی #هنر دی.»

· Abdul Basir Sahaak
«د نن ماښام ډېر ښکلی ماښام دی، ځکه زما د خوښي شاعر او ډاکټر احسان الله درمل صیب ډیوې پکي بلي دي. د ده ډیوې دې تل زمونږ په زړونو کي بلي وي.»

محمد رفیق ریحان

«ګران ډاکټر احسان الله درمل صیب ته لوی خدای هغه وړتیا ورکړې ده چې زما په څیر ډیر ترې عاجز دي درمل صیب د خوږې ګوړې سکنی ورور دی د حمزه بابا په قول له هرې ډډې یې چې څکې خوږ دی هغه که شعر لیکل دي که نثر دی یه نقادي دی زه عاجز به څه په دې درباره ژبه د درمل صیب توصیف یه ستایل وکړم خو دومره به ووا یم چې عمریې ډیر صحت یې روغ خوشالی یې ملګرې یوه بله هغه دا چې دسې ډیرې ډیوې اوډیر مښامونه دې دا درمل په ژوند او درمل په ستایلو رڼا رڼا شي»

M Anwar Tabasum

«ډاکټر صیب درمل په ځوان کهول کې په لر او بر وطن کې بې جوړې انسان دی، نوموړی په یوه وخت کې شاعر، لیکوال، کره کتونکی، نقاد د زړونو متخصص ډاکټر، په سیمه او نړۍ ژور نظر ساتونکی... لنډه دا که نابغه یې وبلو مبالغه به نه وي، دا خبره زه په اثبات سره کوم.

په درمل صیب باندې خبرې کول اسان کار نه دی او نه په دا لنډ وخت کې راټولیدلی شي، مونږ ورته د اوږد عمر دعاګانې کوو او د لوی خدای نه ورته نور توفیق غواړو.»

Borjan Hamraz

«څومره چې یاران خاورې زمــــــا پهٔ نامه اړوي
دومره به د خلکو راته پام کړي، نور به څهٔ وکړي؟

درمل نهٔ یوازې زموږ د تن درملنه کوي او د روغتیا طبیب دی؛ بلکې زموږ د زړونو طبابت هم کوي. دی پر ادبیاتو دومره برلاسی دی، چې هېڅ پېژندنې ته اړتیا نهٔلري. خوږ او روان نثر لیکي. د شعر ژبه یې پخه ده. نن یې پر ژوندون ستایو. د دهٔ پهٔ نوم د نن ماښام ډېوې بلوو. درمل دې خدای زموږ لهٔ څنګه نهٔبېلوي.»

قلمیار اشنا

«درمل د زړونو علاج
درمل د زړونو سکون
درمل د روح پر واز
درمل د خوږ من زړه ټکور
درمل د لفظونو جادوګر
درمل د زړونو شاعر
درمل د اوسنې عصر د شعر بادشاه
درمل مینه ناک
درمل نرم دل
درمل د ګودرونو شاعر
درمل زموږ لپاره یو روڼ څراغ
زړه ارام سې زړه خوښې وکړي ملګرو
د درمل په غزلونو کې سکون دی
قلم یار اشنا»

زاهد سعیدي

«زهٔ ایله دومره ویلی شم، چې یؤ وخت مې ورسره د څهٔ مؤضوع اړوند مشوره کؤله، ډېر نرم ژبی سړی دی او پهٔ نهٔ پېژندګلو یې سارهٔ ځوابونه راکؤل.

پښعر غرېدل خو يي زما لهٔ وسه نهٔ کيږي او شعرستان ته يي سلام!»

د همدي کرښو د ليکلو په ورځو کي مي د درمل صاحب په باب د ښاغلي م: ځاځی (MazharZaza) دا ليکنه هم له نظره تېره شوه. زه يي اړينه ګڼم چي دلته يي هم راواخلم:

«رب وکړه چي د پيژندګلوریٔ دا توريږ يي حق ادا کړي،
ځکه چي په دومره لوی بشر فني او علمي بحث د شعر پوهني تېزي عينکي او د معنا پوهني ژور لېد غواړي.
د سندريز اريوب له طبيعته يو روښانه او شاعرانه هستي
چي شعر يي د زړونو پرتخت پاچاهي کوي، دغزل تورو څخه يي مينه ځاځي، پيغام يي ډير لوړ او تولنيز دی، دسخاوتمندانه او پراخ نيت څښتن استاد احسان الله درمل دی.
ښاغلی درمل دشعر له جوړښته تر نوښته
له انسانيته تر محبته
له وطنپالني تر ميلمه پالني
له ګلابه تر کتابه
په دې ټولو برخو کي خورا پياوړی او بريالی دی.
دا شاعر خپل جنت په خپلو ملګرو تقسيموي، له ډيرې خواخوږی څخه درد ته ورور وايي، دا ادبي څېره دنورو برعکس دسپينو پرځای دتورو بلا اخلي، همېشه يي خپل وجدان مخاطب کړی دی او توبې غړوي.
د خپل وجدان عاطفه يي له دې بيتونو معلوميږي👇
اوښکي مو جار شم له توپانه را ستنو مرغيو!
راځئ راځئ چي باغ مو خپل دی ميلمنو مرغيو!
زموږ د زړونو خړې پرې آشياني ستاسو دي
زموږ ليمو کي د رڼو اوښکو داني ستاسو دي
ځئ له اېرو کړو د ققنوس غوندې وزرې پيدا
شي به د زهرو کټوريو کي شکرې پيدا
لنډ يي وايم
د پښتو په معاصره شاعرۍ کي د هغو شاعرانو له ډلي چي د کلمي په حقيقي مانا سره لوی شاعران دي، يو يکې بې له شکه چي پير صيب درمل هم ده.
ډاکټر صيب د ژبي په محور باندې په بر لاسی کي له مور يو دی. د شعر ساختمان او ترکيب يي عالي دی، د لوړ تخيل او ژور فکر څخه مال امال دی، د شعر موسيقی او اهنګ برخي يي په بيتونو کي عطرين وږم لري، مباحثې او مناقشې يي هم ځان يو څه بولي. زه يي د ادبي فنونو حافظ بولم.
نثرې جوړښتونه يي هم جلا هنري ارزښتونه لري.
درمل صيب د ژبي او قلم هر توری د کاڼي کرښه ده، له دې پورته يي د ستايلو توان په ځان کي نه وينم. سخته ځکه وه چي په هغه چا مي ليکل وکړل چي نيمه نړیٔ يي پيژني.
دا لوی بخت بولم چي پښتو شاعري د درمل په څېر ستې لري. په ډاډ يي وايم چي د راتلوونکو نسلونو په ذوقونو، احساساتو او عواطفو به هم حکمراني کوي.
دا بيتونه او کلېواله سندره يي که چاته ياد وي رانه يي مه سپموئ!👇
د هندارو زړونه تنګ دي د ډبرو په لباس
يو شاهين رانه زړه يوړو د کوترو په لباس.
تل لړي په زړونو، دوړوي مالګي
په زړه ناسورو پرهرونو ستا بانه.
م: ځاځی»
۱۰/۱/۱۴۰۳

په هماغي ورځې چې د احسان‌الله درمل له‌پاره ډیوې بلې شوې، ډاکتر محب زغم هم د درمل صاحب په باب خپله یوه پخوا نشر شوې مقاله (د شعرستان نثر) بیا خپره کړه، دا ډېره اړینه مقاله ده، ځکه یې دلته رانقلوم:

«د ډاکتر احسان‌الله درمل «شعرستان» چې پر شعرپوهنه سیستماتیک بحث کوي، د علمي او هنري نثر غوره بېلګه ګڼلی شو. مانا دا چې د کتاب ژبه له محتوا سره سم اړخ لګوي. بحث علمي دی نو درمل صاحب هم په علمي نثر لیکلی دی، له بلې خوا د بحث موضوع شعر (د هنر یو ډول) دی نو باید چې نثر یې هم وچ کلک نه وای ځکه خو لیکوال هنري نثر کارولی دی.

علمي (اکاډمیک) نثر باید واضح، صریح، دقیق، له مبالغې پاک، او له احساساتو خوندي وي. همدارنګه د علمي نثر لیکوال که خپل نظر بیانوي یا پر یو څه قضاوت کوي، مطلق حکمونه نه‌کوي؛ بلکې خپله نظریه او خپلې موندنې د وړاندیز په بڼه مطرح کوي. البته په ساینس کې خبره یوڅه متفاوته وي، هلته که چېرې موندنې د پراخو تجربو او مشاهدو په نتیجه کې ترلاسه شوې وي، ورسره متناسب قضاوت یا حکم کولای شو خو دا چې هنر لابراتوار نه‌لري نو باید په اړه یې په احتیاط سره خبرې وکړو.

اوس به لومړی د شعرستان د نثر علمي ځانګړنې وګورو. ښاغلی درمل د مدعا مثل په اړه داسې پرېکړه کوي: «هغه کار چې مولینای روم او شیخ عطار یې د خپلو کیسه‌ییزو تمثیلونو په مرسته کوي، صایب، بېدل، او استاد پسرلی یې په یوه مسره کې کوي، په دې توګه موږ کولای شو چې تمثیلي تشبیه یا مدعا مثل د تشبیهاتو په ډله کې هغه تشبیه وګڼو چې هنري ارزښت یې د ځینو نورو په پرتله زیات دی.»

دی نه‌وایي چې د مدعا مثل هنري ارزښت تر ټولو نورو تشبیهاتو زیات دی، بلکې وایي «د ځینو نورو په پرتله» زیات دی او ان دغه حکم هم په احتیاط سره کوي «موږ کولای شو چې ...».

د اسطورې په بحث کې لولو چې: «د نذیر احمد نذیر په لاندې شعر کې وګورئ چې د ستورو، لمر او سپوږمۍ متناوب تګ و راتګ او د شپې او ورځې د راتلو تکراري پېښه د خیال په مټ له خپل طبیعي او ساینسي هویته اساطیري فضا ته نږدې شوي دي.» لیکوال چې تر دې مخکې یې د اسطورې تعریف راته کړی دی، د ښاغلي نذیر پر شعر مطلق د اسطورې حکم نه‌کوي، بلکې وایي «اساطیري فضا ته نږدې شوي دي».

درمل صاحب د سېمبول په اړه د ځینو نظر یادوي چې ادعا کوي سېمبول د اختناقي او استبدادي شرایطو په عکس‌العمل کې زېږېدلی دی ځکه په داسې شرایطو کې سړی نېغه خبره نه‌شي کولای نو د سېمبول تر بوسو لاندې د مطلب اوبه تېروي. بیا د دې نظریې د ردولو دلایل وړاندې کوي، وروسته وایي: «اوس به ښایي دا پایله اخیستل زموږ حق وي چې سېمبول همېشه د اختناق په تیاره کې بل شوی څراغ نه دی؛ بلکې هغه ستوری دی چې تر شا یې د پېچلو افکارو او ناآشنا رواني کیفیتونو روڼ سهار ولاړ وي.» دلته وینو چې لیکوال بیا هم په احتیاط سره وایي «اوس به ښایي دا پایله اخیستل زموږ حق وي ...» دی خپله خبره پر چا نه‌تحمیلوي، نور خپلې خوښې ته پرېږدي.

د هنر او ساینسي واقعیت په په‌زړه‌پورې بحث کې درمل صاحب وایي: «د انسان په اړه د بیولوژۍ علم وایي چې دا فقاریه او تي‌لرونکی ژوندی موجود دی ... د انسان په اړه د بیولوژۍ پورته یاد شوي فکر (زما په فکر) د یوه شعر زېږېدو ته هم زمینه نه ده برابره کړې او یا به زما له نظره نه وي تېر شوی.» دی په زغرده نه وایي چې له دغه ساینسي واقعیت څخه چا شعر نه‌دی جوړ کړی؛ ځکه چې ده د دنیا ټوله شاعري نه‌ده لوستې، خو په هغو شعرونو کې چې ده لوستي دي، دا شی نشته.

په دې بل مورد کې هم د لیکوال خبره د علمي نثر له غوښتنو سره برابره ده چې: «دا اصطلاح (شفاف او کدر وزنونه) فکر کوم لومړی ځل د پارسي ژبې لوی کره‌کتونکي او شاعر ډاکتر شفیعي

کدکني په خپل بېساري اثر (موسيقي شعر) کې کارولې ده؛ تر هغه وروسته هم يو نيم ځای راغلي (لکه د کاظم کاظمي په «روزنه» نومي کتاب کې) خو بل ځای په ادبي اثارو کې زما له نظره نه تېره شوې.»

درمل صاحب د خج د موقعيت او د ريدم د چستوالي په اړه داسې خبره کوي چې زما لپاره نوې ده: «ما ته داسې ښکاري چې د مسرو په رکنونو کې د خج يا اکسنټ موقعيت د وزن پر ځپاندوالي يا ټکنيتوب اغېز لري؛ څومره چې خج له لومړۍ څپې څخه د څلورمې خوا ته ځي، هماغومره وزن ټکنی کېږي او برعکس.» ځنګه چې دا د ليکوال موندنه يا کشف دی نو وار له واره قطعي حکم نهکوي؛ بلکې علمي چلند ورسره کوي، دی خپله خبره د يوې فرضيې په توګه وړاندې کوي او انتظار ورته کوي چې لا پخه شي او نور هم ورباندې بحث وکړي. البته که دا خبره ثابته شي، له شاعرانو سره به مرسته وکړي چې د خپل شعر آهنګ او موسيقي، د شعر له محتوا سره سم کړي.

د شعر د داخلي شکل په اړه ليکوال داسې وايي: «زه خپلې خبرې په دوو بېلګو پای ته رسوم، په يوه شعر کې داخلي شکل ښکلی دی خو په دويم کې يا نشته او يا دومره مبهم دی چې زه نه پرې پوهېږم. زه پخپله له هغه يوه خوند اخلم چې داخلي شکل لري، تاسو ته هم دواړه شعرونه پرېږدم او هم ستاسې ذوقونه او قضاوتونه.» دلته ښاغلی درمل بيا علمي لاره خپلوي. ځنګه چې انسان کامل نهدی او هرڅوک ممکن تېر ووځي نو دی هم په دويم شعر کې د داخلي شکل د نشتوالي په اړه داسې حکم نهکوي چې د ده تر واک او امکاناتو دې پورته وي.

البته د درمل صاحب په خبرو کې يو دوه ځايه ما ته يوڅه مبالغه ښکاره شوه. دی وايي: «له دې تعريفونو او نظريو څخه چې موږ له سينده د منګي په اندازه راواخيستې، دومره معلومېږي چې تصوير پراخه لمن او پېچلې هويت لري.» فکر نهکوم چې د تصوير په اړه دې دومره ډېر تعريفونه وړاندې شوي وي چې موږ يې سيند هومره وبولو.

بل ځای وايي: «ځکه نو د حمزه بابا دويم بيت د هرچا پر ژبه ګرځي.» دا سمه ده چې د حمزه بابا هغه بيت به نسبتاً زياتو شعرلوستونکو په يادو زده وي او دا هم منم چې «هرچا» په ولسي ژبه کې د «زيات کسان» مانا لري خو دا چې شعرستان علمي اثر دی نو په کار وه چې د نورو موردونو په څېر دې، له دې مورد سره هم علمي چلند شوی وای.

ومېويل چې د شعرستان نثر علمي او هنري دی. د علميتوب دليلونه يې وړاندې ياد شول، اوس به راشو هنريتوب ته يې. درمل صاحب د ښکلو، مناسبو او ځای ځای نويو تشبيهاتو او ترکيبونو په مرسته له يوې خوا پر معلوماتو پوهېدا راته اسانوي او له بلې خوا وچه تيوري د شاعرانه جملو په منځ کې داسې حل کوي لکه د درمل جوړولو کمپنۍ چې له انتيبايوټيک سره د مېوو خوند ګډوي او خوندور شربت ځنې جوړوي.

دی تکرار د هنرمند کمزوري او د هنر زوال بولي نو چې دا خبره کوي همداسې جمله ورته جوړوي چې تکرار په کې نه وي: «د ادبي ژبې د ښکلا مناره د تکرار په نري باد هم ړنګېږي.»

او په دې پراګراف کې بيا د تکراري تشبيهاتو لپاره د هغه ګني مثال راوړي چې په زرګونو ځله ژوول وي: «که اوس هم څوک د ښنو غشي، د قد سروه، د سترګو نرګس، د زلفو ماران، ... په دې نيت راوړي چې لوستونکي يا اورېدونکي ته د تعجب او هنري لذت په نوم يو څه ورکړي، تېروتی دی؛ ځکه چې په زرګونو ځله ژوول شوي ګني به نور څومره خواږه ولري چې موږ يې بيا وژويو؟»

ليکوال د سېمبول د راپېژندلو لپاره له داسې تشبيهګانو او هنري نثره کار اخلي چې د دقيقو معلوماتو تر څنګ د خوند خواږه هم راکوي: «- سېمبول د درياب غوندې دی چې هر لوستونکی د خپل ذهني ظرف په اندازه ترې د معنا اوبه اخيستلای شي. - د سېمبول په مرسته د شاعر د افکارو د شمسي نظام ګڼې سيارې مونلای شو چې د سېمبول له لمره چاپېره څرخي. - رويا او تخيلات چې پوزيتويزيم

او ریالیزم له ادبي او هنري حوزې څخه تبعید کړي ول، سېمبولیستانو بېرته راپخلا کړل. - سېمبول هغه سلواغه ده چې هر لوستونکی پرې د خپل روح له ژورې ځاه څخه د خپلو دروني کیفیتونو اوبه راوباسي.»

د اسطورې او تخیل په بحث کې د درمل صاحب دغه شاعرانه جملې وګورئ: «فلسفي هم د انسان د ځینو پوښتنو ځواب نه درلود او انسان مجبورېده چې د خیال د خضر لمنه ونیسي او له هغه سره یوځای د ابهام په تیارو کې د حقیقت په اوبو پسې پل واخلي. - ماشوم، شاعر او بدوي انسان د تخیل په غېږه کې ژوند کوي؛ ماشوم د ځوانی او بدوي انسان د ساینس په لاس له دې خوږې غېږې څخه رابېلېږي؛ خو لوی او اصیل شاعران د ژوند تر پایه له رویا او تخیل سره اوسي. - د شاعر خیال او عواطف د جبراییل دم دی چې د وچ طبیعت د مریمې په لستوني کې پوکل کېږي او د شعر د مسیحا ډوله موجود تولد ته زمینه جوړوي.»

درمل صاحب د قافیې د اهمیت په باب یو مثال راوړي او د قافیې موقعیت د پاچاهی له تخت سره تشبیه کوي: «ګورو چې دلته د بیت د دویمې مسرې قافیې د ټول بیت د معنا بار پر اوږو اخیستی دی او له همدې امله شاعر دومره مهمه کلمه د قافیې پر تخت کېنولې ده.»

او بېکاره ردیفونه هغه دسمالونه ګڼي چې خلک یې د خپل ارمان د پوره کېدو په هیله د زیارتونو پر مېو تړي خو خدای خبر چې به خپل مراد حاصلوي که نه: «ځومره ډېر شعرونه شته چې ردیفونه ورپورې لکه د زیارتونو رنګین دسمالونه زانګي، خو د شعر له معنایي او موسیقایي برخې سره هېڅ مرسته نهکوي.»

**د درمل صاحب د کلام ځوبېلګې:**

مړ دې یم پاک په زنګېدلي اواز
په ایتونو د زبور مې قسم

جوړ به له خپل پټکي ملا ته وي دار
په خورو ځېو د منصور مې قسم

*****

نه د ښار په زړه ځایېږو نه د غره شوو
موږ ځانونه څه ګڼلي وو او څه شوو

نه شوو پوی چې مرګ او ژوند څه وو درمله
افسانه مو اورېده ورو ورو ویده شوو

ا. درمل

*****

د روح سکون، د زړهٔ ټوټه، د سترګو تور دی وطن
شرم دی مه یې خرڅوئ، ټیکری د مور دی وطن

تت خو یې مه شه د جلال او د جمال رنګونه
شرنګ دی زما د ځنځیر ستا د بنګړو شور دی وطن

پرواز به وکړي د ققنوس غوندې له خپلو ایرو

خیردی اخیستی که له خپلو بنو اور دی وطن

ور به یي نکړم یوه لوېشت ځمکه په باغ د عدن
که سوی لوی دی، که وران، که سپېره سپور دی وطن

څوک یي کوهي ته غورځوي څوک د وحشت زندان ته
لکه یوسف د خپل او بل په تهمت تور دی وطن

وچ کړنګونه یي له تاندي موملایی نه ډک دي
چېرته یئ؟ راشئ پرهرژلیو! چي ټکور دی وطن

احسان الله درمل

*****

خوله پرانیزه ستا د خاموشی له شوره مړ نشم
مه راګوره مه راګوره داسي ګوره مړ نشم

تورو بلا سترګو ته دي مخامخ ولاړ یمه
سترګي په ما توري شوي د سترګو توره مړ نشم

پروت دي یم تر پښو لاندي د عشق د سره انکار په خیر
لاس چي رانه وانخلي د حسن اوره مړ نشم

*****

رندي مي جبر که اختیار دی ملا؟!
د خدای په کار کي دي هم کار دی ملا!

ته د مینا قُل قُل ته غوږ شه ساقي!
پرېږده لګیا دي وي وزګار دی ملا

سترګي کږه پټي کفن کش کړه پر سر
جهان چي ستا په خوله غبار دی ملا!

په میکده کي هم پردی حق؟ توبه
ګوتې په شمار بویه، جام په وار دی ملا!

په مړه څراغ پسي ړانده روان دي
د عام بهیر کاروان سالار دی ملا

وینه روانه، مینه کنګل غواړي
دا نو انصاف شو؟ د خدای پار دی ملا!

سر نه دی، درد او عشق چي نه پېژني
تاو له ډبري نه دستار دی ملا!

جدي خبره د درمل مه اخله
مست دی، شاعر دی، ګنهګار دی، ملا!

*****

څه پښتون؟ څه يې غيرت؟ څه يې ننګونه؟
خو خپل غولي ته راوړي پردي جنګونه

د وطن د مور ټيکری يې دی بايللی
خو ګټي پردی چلتار، پردي لنګونه

په يوه خوله دي روان په سلو لارو
په يوه لار سل خپلونه، سل رنګونه

د نيکونو توري ساتي ځلبلاندي
او فکرونو يې نيولي دي زنګونه

غبرګوي د خپل دښمن د خولي خبره
ډېرمغزي لکه خپل وچ ګړنګونه

له خپل وروره سترګي باسي چي پاچا شي
ښخ يې زړو کي د ورېندارو پالنګونه

په کونجکو، په ګوجيو پسي غواړي
د تاريخ د خړ سيلاو پاتي منګونه

د قبرونو په کيندو يې لاس تناکي
په متونو يې ببلچي او کولنګونه

په خپل څنګ کي سيوری نه پرېږدي د ميني
خو ټوپکو يې خوړلي دي څنګونه

د ټربور د بوري مور سوي ناري يې
د نغمو غوندي په زړو وهي چنګونه

څه فايده؟ که شي لښکر، لښکر سرونه
پاتي ډېر دي پري د تورو قلنګونه

*****

هره ورځ يو غر نړېدلی وي يو دنګ مړ وي
داسي سهار به دلته را نه شي چي جنګ مړ وي؟

د زماني د ستم طرز دی دو چندان ستم
بلبل يې سوی وي، په کنګل يې پتنګ مړ وي

روزي رسان دی رب، خير وي دې درمندونه تش
لرې هغه ساعت لرې چي غنمرنګ مړ وي

ستا په اوربل پسي به زړه د کشمالي وي چاود

ستا په سینه پسې به واورې چې لونګ مړ وي

د بورو، کوندو ټیکرې نه کړئ پرې جنډې عار دی
چې په پردې چلتار ژوندی، په پردې لنګ مړ وي

له سکندر سره مې بویه چې مړستون یو شي
های دومره بخت چې ستا کوڅه کې ستا ملنګ مړ وي؟

خوږه حلوا دې د ملا په پاتا وېشه شي
خوند کا مین چې د بنګړې غوندې په شرنګ مړ وي

چې شي یې حشر له منصور او له فرهاد سره
درمل چې مړ وي عشقه کاش چې ستا په ننګ مړ وي

**د «دېوې، ډیوې مابنام» مسؤلینو او چلونکو ته ځووږاندیزونه:**

ــ ډېر مثبت پروګرام مو پیل کړی دی، وېغځوئ،

ــ د هنري ادبیاتو د نورو برخو تخلیقونکي (هنري نثر) هم یاد او ونازوئ،

ــ د څېړونکو او ښونکو یادونه هم مه هېروئ،

ــ د ډیوو په بلولو کې یوه یا دوې ورځې وقفه راولئ، ځینې کسان به یې دومره ژر تعقیب نه شي کړای،

ــ هرچا ته چې ډیوې بلوئ، که یې لنډه بیوګرافي هم خپره کړئ، ښه به وي،

ــ تاسو خپل ټول خپرېدونکي مواد په منظم ډول خوندي کړئ چې وروسته د کتابونو په بڼه خپاره شي،

ــ د «دېوې، ډیوې مابنام» ډیوې دې د ټول افغانستان د شاعران لهپاره بلې شي او په یوې سیمې پورې دې و نهتړل شي،

ــ له شک پرته د شعر هنر او شاعرانو په تشویق کې به ستاسو اوسنۍ هلېځلې یو ځای ونیسي او د شاعرۍ بازار به نور هم تود شي؛ داسې نه شي چې ټول نوی نسل شاعرۍ ته مخه کړي او شاعرستان ورنه جوړ شي. نو که تاسو د علم او هنرونو د نورو برخو له پاره هم تشویقي ــ تبلیغاتي او عملي کار پیل کړئ، بده به نه وي ځکه چې ټولنه او خلک د شاعرانو ترڅنګ ډاکترانو، انجنیرانو، ښوونکو او د پوهې ــ فرهنګ د نورو برخو تحصیل کړو او متخصصینو ته هم اړتیا لري.

په پای کې د دې مقالې د ښه اختتام په نیت، به د کاروان هغه غزل راواخلم چې د «دېوې، ډیوې مابنام» لهپاره یې لیکلی دی:

## غزل

ډیوې ـ ډیوې مابنام دی، کۀ مابنام ډیوې ـ ډیوې
سپوږمۍ ناسته د پورې غرۀ پر بام ډیوې ـ ډیوې

پۀ دې وطن بۀ چرته راځي راج د تروږمۍ
اغلي او ښاغلي مې د قام ډیوې ـ ډیوې

دا نن دې رونېوي یاران لهٔ ستورو سره شپه
سبا بهٔ ونې ګوري د بادام ډیوې ـ ډیوې

دا ژني او دا پیغلې روهیلی د روهستان
کابل ډیوې ـ ډیوې دی او باګرام ډیوې ـ ډیوې

دې ستورې ماشومان ورته لهٔ نازه پهٔ نښا
بهیر د غزلبولو ګام پهٔ ګام ډیوې ـ ډیوې

رندان مو د عرفان د میکدې د نور شراب
د زړونو پهٔ تاخونو کې بړدې جام ډیوې ـ ډیوې

ډیوې ـ ډیوې ماښام کې لهٔ همیم سره شه مل
کاروانه ترې نه وابهٔ خلې الهام ډیوې ـ ډیوې

پیرمحمد کاروان




www.dawatmedia24.com